د بيرني خپراوي لپاره

افغانستان: سياسي ناڅرګندتيا له حقونو سرغړاوی زيات کړی دی

له ګواښ سره د مخامخ ملکيان، ښځو او ژورنالیستانو د حقونو د ساتنې لپاره د تمويل کوونکو فشار اچونه برخليک ټاکونکي ده.

(کابل، د ۲۰۱۵ کال د جنوري ۲۹مه) د بشري حقونو د څار اداري نن د ۲۰۱۵ کال لپاره پخپل نړيوال رپورټ کې وويل چې په افغانستان کې له ستونزو ډک سياسي انتقال او زياتيدونکو وسله والو جګړو داسې ناڅرګندتيا رامنځته کړې ده چې د بشري حقونو په برخه کې يې د تيرې لسيزې لاسته راوړنې په خطر کې اچولې دي. د واک د شريکولو هغې معاملې چې اشرف غني يې د ولسمشر او عبدالله عبدالله يې د اجرايه رئيس په توګه وټاکه، د طالب ياغيانو له خوا زياتيدونکي فشار او د بهرنيو مرستو راکمیدلو د بشري حقونو هغه اجنډا لا زياته پيچلې کړې ده چې د ملکي کسانو د خوندیتوب، د تيرې کوونکو ځواکونو حساب ورکونې او د ښځو او خبريالانو د حقونو د ساتنې لپاره په پام کې نيول شوي وه.

د بشري حقونو د څار اداره د 656 مخيز راپور په ۲۵م چاپ کې د ۹۰ هيوادونو د بشري حقونو فعاليتونه تر ارزونې لاندې نيسي. اجرايه رئيس کينيت روت پخپله مقدمه کې پر حکومت تاکيد کوي چې په ستونزمنو حالاتو کې بايد د بشري حقونو وړانديزونه د اخلاقي لارښودونو په توګه وپيژني که نه د بشري حقونو څخه سرغړاوی سختې امنيتي ننګونې راپارولی شي. د تبعيض د له منځه وړلو او آزادۍ د بنسټيزو ارزښتونو پر ځای ترلاسه شوې لنډ مهالې ګټې ډير لږ هغه اوږدمهالې قيمت پوره کولی شي چې له ناوړه پايلو يې راپورته کيږي.

په آسيايي چارو کې د بشري حقونو د څار اداري مرستيال فيليم کاين وويل چې "د افغانستان نويو سياسي مشرانو د خپلو کمپينونو پر مهال مشخصې ژمنې وکړې چې د بشري حقونو خوندیتوب ته وده ورکوي." دولت اړ دی چې خپلې ژمنې پر داسې کوټلو ګامونو بدلې کړي چې له ناوړه استفادې څخه مخنيوی، د بنسټيزې آزادۍ ملاتړ او د بشري حقونو د قربانيانو لپاره عدالت غوښتنه په کې شامل وي."

طالبانو او نورو ياغيانو د ټولټاکنو د دواړو پراووونو پر مهال بريدونه ترسره کړل چې د ټول کال په اوږدو کې يې ملکيان تر هدف لاندې ونيول. ملګرو ملتونو د ۲۰۱۴ کال په لومړيو مياشتو کې د ۲۰۱۳ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله د ملکي تلفاتو په شمير کې د ۲۴ سلنه زياتوالی وښود چې زياتره يې د ياغيانو د حملو له کبله وو. د جګړو زياتوالي او د امنيت نشتوالي د ۲۰۱۴ کال د جنوري له مياشت څخه بيا تر سپتمبر مياشت پورې ۳۸۰۰۰ کسان هيواد دننه بې ځايه کړل چې له دوی سره د کورنيو بې ځايه شويو کسانو شمير ۷۵۵۰۰۰ ته ورسيده. په داسې حال کې چې ګڼ شمير هيوادونه له افغانستان سره د مالي مرستو لا زياتې ژمنې کوي، خو له هيواده د نړيوالو ځواکونو د وتون په شپږيدو سره سياسي ښکيلتياوې په چټکۍ سره خپل رنګ له لاسه ورکوي.

د بشري حقونو د څار اداري وويل چې د حکومت د امنيتي ځواکونو له خوا ترسره شويو تيريو پر وړاندې معافيت اوس په يو نورم بدل شوی دی. د راپورونو پر بنسټ د قندهار پوليس په ځانګړي ډول د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې د شکنجې، ناقانونه اعدام او په زوره د شړلو په ځير جرمونو تورن شوي دي. د افغانستان محلي پوليس چې د سيمه ييزې دفاع د ځواکونو يوه شبکه ده او د افغان حکومت په مرسته د امريکا د نظاميانو له خوا جوړ شول – د پرله پسې صحرايي محاکمو په ګډون د بشري حقونو پر وړاندې پر سختو تيريو تورن دي. د آګست په مياشت کې د قندهار په ژيړۍ ولسوالۍ کې د طالبانو پر وړاندې د عملياتو پر مهال د جنرال عبدالرازق تر قوماندې لاندې د محلي پوليسو يوې ډلې شپږ کوچيان له طالبانو سره د کار کولو په تور تر نيولو وروسته اعدام کړل.

د بشري حقونو د څار اداري زياته کړه چې په ۲۰۱۴ کال کې د ښځو حقونه هم د ګواښ لاندې وو. د جنوري په مياشت کې پارلمان د جزا د قانون يوه ماده تصويب کړه چې د کورنۍ تاوتريخوالي محاکمه له ګواښ سره مخامخ کوي. که څه هم دا ماده وروسته بيا تعديل شوه خو اوس هم د تورن ګڼ خپلوان د کورنۍ تاوتريخوالي په قضيو کې له شاهدۍ ويلو مستثنی کوي. په ۲۰۱۴کال کې د ښځو د حقونو لپاره بل ناوړه پرمختګ د لوړ رتبه ښځينه چارواکو په ګډون پر ښځينه پوليسو او فعالانو بريدونه وو. په ۲۰۰۹ کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي پر ضد د جوړ شوي قانون تطبيق خورا کمزورې وو او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالی ګڼې قضيې يا له نظره وغورځول شوې او يا د هغو خواوو په واسطه د منځګړيتوب له لارې حل شوې چې په محکمې کې يې له حاضريدو ډډه کوله.

پر رسنیو بریدونه په تیره بیا د حکومت پلوه ادارو له خوا زیات شوي او د ۲۰۱۴ کال په شپږو لومړیو میاشتو کې پر ژورنالیستانو ۶۸ بریدونه ثبت شوي دي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۳ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۴۱ دا ډول پیښې ترسره شوې وې.

کین پر نوي دولت ټینګار وکړ چې د بڼځو د حقونو د خوندیتوب په لاره کې کلک تدابیر ونیسي او د امنیتي ځواکونو د تیریو پر وړاندې معافیت ته د پای ټکی کیږدي. دولت اړ دی چې هغه ژمنې ترسره کړي چې د بشري حقونو په برخه کې یې د تیرو ۱۳ کلونو د لاسته راوړنو د ساتلو په اړه ورکړې دي.

که غواړئ چې د بشري حقونو د څار اداري د ۲۰۱۵ کال نړیوال راپور د افغانستان برخه ولولئ، له دې ځایه لیدنه وکړئ

http://www.hrw.org/world-report/2015/country-chapters/afghanistan

د افغانستان په اړه د بشري حقونو د څار اداري د لا زیاتو راپورونو لپاره، له دې ځایه لیدنه وکړئ:
http://www.hrw.org/asia/afghanistan

د لا زیاتو معلوماتو لپاره اړیکی ونیسئ:

په سان فرانسیسکو کې برادز آدمز (په انګریزي ژبه): موبایل: 1 347-463-3531+ ایمیل: adamsb@hrw.org
په واشنګټن ډي سي کې جان سیفټن (انګریزي ژبه) موبایل: 1-646-479-2499+ ایمیل: siftonj@hrw.org
ټویټر پاڼه: @johnsifton
په نیویارک کې فلیم کین (انګریزي او ماندریني) موبایل: 1-212-810-0469+ ایمیل kinep@hrw.org
د ټویټر پاڼه: @PhelimKine
په بروکسل کې پټریشیا گوسمن (انګریزي) موبایل: 32-472-982-925+ ایمل: gossmap@hrw.org
د ټویټر پاڼه: @pagossman